مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوالان: ډاکټر محمد حسين پاپلي يزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۲/۲۷

# لويه تلوسه

شلمه برخه

**د اوبو بين المللی قوانين**

**دوهمه برخه**

**دويم فصل**

**ګډ ګټو هيوادونو ترمنځ د هريرود اوبډنيزه حوضه**






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**د دوستی بند موقعیت او د هغې اړوند حوزه.**




## هریرود څخه اوبو برخه

هریرود څخه د حقابې ترلاسه کولو سیاست هم هماغه هلمند لپاره د وړاندیز شویو سیاستونو پر اساس دی. یاني د **سیمه ییزې مشارکتي تیکاومني پراختیا سیاست**. د هریرود حوضه په ایران ، افغانستان او ترکمنستان دریواړه هیوادونو کې واقع شوې ده. دلته چارې د دریو هیوادونو همکارې غواړي. کېدی شي که ترکمنستان په هریرود حوضه کې د پراختیا همکارۍ سره لیولتیا ونښوده ایران او افغانستان کولای شي پدې برخه کې خپل سیاستونه تنظیم کړي.




هریرود یو سرغړاندَی او سیلابي سیند (رود) دی چې د کال په ځینو فصلونو کې وچ وي او پسرلني کچ یې (دبي) په یوه ثانیه کې ۲۰۰۰ مترمکعب او په استثنایي مواردو کې له ۲۵۰۰ متر مکعب ته هم لوړیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**له هریرورد څخه** د لاندنیو مستنداتو په اساس **د افغانستان د سنتي حقابي کچه تخمینولای شو:**

۱ ـ د مولانانا عبدالرحمن جامي طومار چي په نهمه پیړی کي، د هرات په ختیځ کي د آخوند رباط له حدودو د هرات دشتي تر وروستی برخي پوري د هریرود د اوبوبرخو په هکله، لیکل شوی دَی؛

۲ ـ (کتاب طریق قسمت آب قُلب) د مولانا ابونصر فارابي لیکنه چي په لسمي پیړی کي لیکل شوَی؛

۳ ـ د دودیزو ویالو(سنتی انهارو) مسوده چي د افغانستان په تاریخی او مالیاتي کتابونو کي درج شوي ده؛

۴ ـ د هرات دشتي د کرهنیزو ځمکو میزان؛

۵ ـ په ۱۹۶۰ – ۱۹۷۰ لسیزه کي د FAO مطالعات ؛

**اړینه ده چي افغانستان دولت د هریرود اوبو څخه د هرات دشتي**

**د سنتي اوبو برخي د ټاکلو په باب پخپله د هراړخیزو مطالعاتو طرحه سر ته ورسوي**

**د هریرود دشتي د پراختیا د مخنیوي عمده طبیعي لاملونه**

۱ ـ سپوږمکیز عکسونه ښیي چي د هریرود سیند د بستر مهمي برخي ورَستي او فرسوده شوي او په ډېرو ځایونو کي د بستر پلنوالَی (عرض) له یو کیلو متر او په ځینو برخو کي له دوو کیلومترو څخه زیاتی کوي. د رود په اوږدو کي له سل کیلومترو څخه د زیاتي رودغاړي (څنډي) تخریب او وروستوالَی د دي لامل شوی چي هریرود ته دځېرمه کلیو په زرګونو هکتاره کرنیزې ځمکي تولي وراني وېجاړي او تخریب شي.

۲ ـ هرکال د نهرونو او ویالو سربندونه (ورخونه) تخریبیږي چي بیارغونه يې د کروندګرو په ټولني زیات لګښتونه تحمیلوي.

۳ ـ په بستر کي د رودونو ځای پځای کېدل اوبدلون او نوره موارد د هرات په دشته (ډاګ) کي د اوبو زیم را منځ ته کیدو لامل شوي دي. کابو اویا کیلو متره واټن کي د اوبو زیم د دي لامل شوی چي ډېرې ځمکي زیانمني او له کرکیلی پاتي شي.

۴ ـ په ۸۰ ـ ۱۳۵۰ لسیزو کي د هرات د دشتو په انتهایي برخو کي، د بوټو پوښښ د ویجاړیدو له امله د روانو ریګونو غځېدنه تونده شوي ده. دغه حالت نه یوازی د کرکیلی او کار کولو د مخنیوي لامل شوی بلکي د دشتي د لمنېزو ځمکو کي د کرهني د پراختیا لپاره خنډ جوړ شوی دی.

**د هرات د دشتي ، د اوبو وضعیت او کرکیلي د قوت، کمزورتیا ،فرصت او ګواښني خواوي (s w o t )**

| د ځواکمنتیا ټکي (خواوي) (S) | د کمزورتیا ټکي (خواوې) (W) |
|---|---|
| | |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | |
|---|---|
| - د هریرود سیند شتون او په نسبي توګه پریمانه اوبه<br>- د اوبرسوني د پراخي دودیزی (سنتي)شبکي شتون<br>- په زړو (فرسوده) ویالو کي د ګڼو مواردو بیارغونه<br>- د کرکېلي مناسبي ځمکي<br>- ګڼشمېره او ارزان بشري ځواک<br>- ځمکلاندي بدایه اوبه زیرمه (د هرات دشتي یوي برخي ځمکلاندي اوبو زیرمه ډېره لوړه ده)<br>- په دشته (ډاګ ) کي له ۷۰ څخه د زیاتو کاریزونو شتون<br>- متناسب جمعیت<br>- نسبي توګه ښه خاوره<br>- بازار ته نږدېوالی<br>- اجراکیدو په حال کي یو لړ بیخبناو شتون (مشهد – هرات اوسپني پټلی) | - د هرات د دشتي یوه برخه د لښتیو( زهآب) اوبه دي<br>- سنتي کرکیله .<br>- د کروندګر او مالک دودیزي اړیکي واکمني دي<br>- د موډرني اوبوني(پنولو) شبکو نشتوالی<br>- غذايي صنایع او د کرکېلي د تبدیلَی کارخونی کمزوري دي<br>- د ماهر او متخصص بشري ځواک کمی (کموالی)<br>- د انرژی کمی (د بریښنا، ګاز او...شبکي)<br>- د پانګي کمی<br>- کمزوري اداري جوړښتونه په تېره په کرکېلي او تولیدي چارو کي<br>- د بیخبناو کمی (ښارونو ترمنځ، کلیو ترمنځ، او کروندو ترمنځ، ارتباطی لاری)<br>- د ارتباطاتو، ټلیفون، نوري فیبر د بیخبناو کموالَ(کمی)<br>- په تولیدی زمینو کي د زدکړی او تحقیق د جوړښتونو کمی<br>- نسبي نا امنی. |
| فرصتونه (O) | تهدیدونه (T) |
| - کشف رود دشتي سره لږه فاصله<br>- په مناسب قیمت د لیږدولو امکان<br>- د نړېوالي(بین المللي) او د افغان خصوصي برخی د پانګو د جذبولو امکان<br>- بین المللی سازمانونو لخوا د پراختیا بیلابیلي برنامي( د ډاکار پروژه او ...)<br>- د ګاونډیو او ذینفع هیوادونو د پانګي او همکاریو د جذب امکان<br>- د ماهرو او نیمه ماهرو ځواکونو د جذبولو چمتوالی<br>- افغانی مهاجرینو بیرته ستنېدل | - د اوړي وچه هوا (آب او هوا) او د محصولاتو پنولو اړتیا<br>- د ۱۲۰ ورځو باد او په لاندیني حوضه کي د روانو ریګو شتون<br>- د کورنیو بانکونو د پانګو لږ جذب<br>- د لازم امنیت نشتوالی |

دي ټولو فرصتونو ، پریمانه اوبه – حاصلخیزه ځمکي، ارزان انساني ځواک سره سره، بیا هم پریمانه بی وزلي، ناروغتیا او له پراختیا وروسته پاتېوالی موجود دی. اوس هغو خلکو سره چي نږدي نیمه پیړی شوه له کودتاو، کورنیو جګړو او لانجو سره لاس او ګریوا ن دي او د لاسه ورکولو لپاره هم هیڅ څه نلري. په قانوني اوبو برخي بحث کول به څه مانا ولري؟ **د هریرود حوضي استوګن خلک، د هرات او غوریانو د تاریخي سیمي خلک هم د پراختیا، هوسایني سوکالی، امنیت او سلامتیا حق لري. هغوی حق لري خپلو پانګو باندې ډېده ولګوي او اوبه د هغوی یوه شتمني**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**(پانګه) ده. مونږ هم داړمنو اوبو او حقابي ته چي زمونږ حق دی اړتیا لرو. نو بیا ولي دا یوه دوه لوریزه اړتیا په فرصت بدله نه کړو. ولي دغه دوه لوریزه او درې لوریزه اړتیا په ګواښ تبدیله کړو؟.**

یو له هغو موډلونو چي کولای شو دوه اړخیز یا درې اړخیز( افغانستان، ایران او ترکمنستان هیوادونه) سیاستونه وڅاکو په لاندني شکل کي لنډون مومي :

د سیمي پراختیا لپاره د دوو یا درې اړخیزه سیاستونو موډل

| |
|---|
| ۱<br>**– تبلیغاتي او بسترجوړولو سیاستونه**<br>****<br>**/**<br>**۲ - منفی اوسلبی سیاستونه** **۳ – مثبت ایجابی سیاستونه**<br>**** **/**<br>**۴ – سیمه ایزې غښتلي او ګډې پراختیا سیاست** |

دلته د منفي او سلبي سیاستونو په تړاو خبري نه کوو ولي چي پردي کار باور نلرو . له دې امله اړینه ده افغانستان او ایران دواړه ورونه هیوادونه د بسترجوړوني او تبلیغاتو پر دوو سیاستونو او مثبت ایجابي سیاست باندي کار وکړي.

البته هیڅ هیواد نشته چي منفي سلبي سیاستونه له پامه وغورځوي او اصلاً هغې په اړه برنامې جوړې نه کړي. خو تر هغه وخته چي منفي او سلبي سیاست د کار په سر کي دی، یوې ګډې تیکاومني پراختیا حلالړې ته رسیدنه؛ نه منل کیږي او نه عملي کیږي. هیڅ هیواد نه غواړي او نشي کولای تر ابده د خپل ګاونډي په هکله سلبي او منفي سیاست اجرا کړي. اوس دغه هیواد که افغانستان وي او که ایران ، که امریکا ، او که مکسیکو .

| |
|---|
| **د دې کتاب وړاندیز د هریرود حوضي بشپړ مشارکتي غښتیا او تیکاومنه پراختیا دی. د کشف رود حوضه چي مشهد دشت یې یوه برخه ده د هریرود حوضی یوه څانګه ده. لدې امله د هریرود د حوضي په سیمه ییزه پراختیا کي، په افغانستان کي د هریرود حوضه په څانګړي توګه د هرات دشت او په ایران کي د هریرود حوزه د تربت جام، دکشف رود دشتي، د سرخس دشت او فرعي دشتي او په ترکمنستان کي د تجن حوضه شامليږي. متقابله پراختیا یاني هره برخه وکړای شي د بلی برخي بشپړوونکي وي.**<br>**لدې کبله وړاندیز کیږي: ایران دولت دې افغانستان سره د مذاکرې له لارې د هریرود حوضي د سیمه ییز مشارکتي پایښتمنې پراختیا لپاره په تېره بیا هرات دشتی لپاره دقیقي او د اجرا وړ طرحي وړاندي کړي.** |

نور بیا

**د هرات دشتي د پراختیا لنډمهاله برنامه:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ